خدایه، موږ له دې بلا څخه وساتې !

که څه هم عمر یې ډیر کم و، ډیره هوښیاره جنۍ وه . نوې شپږم ټولګي ته تللی وه ، خو سږکال یې تر تیرو کلونو زمکه او اسمان فرق درلود.

په یاد یې شو چې پخوا به یې پلار د هغې د اول نمره کیدو په خاطرورته ښایسته سوغاتونه اخیستل . هغې به هم هڅه کوله چې تر پخوا یې نتیجه نوره هم ښه شي او ښه ګرانه ډالۍ تر لاسه کړي . هغه همداسې په چُرتونو کې ډوبه وه چې د ښونځي زنګ ووهل شو.ټول زده کونکي ټولګیو ته په منډو شول. او د ښونځي غولی خالي شو.

درسي ساعتونه یو د بل پسې تیریدل، خو هغه نن د ښوونکو په خبرو هیڅ نه پوهیده. تر درسي ساعتونو وروسته، چې زنګ ووهل شو، ټول له خپلو ټولګیو څخه په منډو شول. مکۍ هم د خپلې خورلنې، هوسۍ سره د کور په لور روانه شوه. د لارې په اوږدو کښې، له ښوونځي څخه دوه کوڅې وړاندې، د لوبو د سامان د خرڅولو یو غټ دکان و. نن چې دوئ دغه دکان ته ورسیدې، د نانځکو او نورو سامانونو په کتلو بوختې شوې.

هوسۍ، مکۍ ته وویل: <<ګورئ څومره ښایسته نانځکه ده ، پلار مې را سره ژمنه کړې چې که سږکال اول نمره شم هغه را ته

اخلي.>>

مکۍ ځواب ورکړ: <<ډېره ښکلې ده. دواړو یو وار بیا نانځکې ته وکتل او د کور په لور رواني شوې. په کوڅه کې ډېره ګڼه ګوڼه وه. کله چې کور ته ورسیدې یوې له بلې سره خدای پا-ماني وکړه او خپلو کورونو ته ننوتې.

په کور کې هم مکۍ همداسې ځُرتی وه . د پلار بده وضع یې په یادیده چې صحت یې ورځ په ورځ خرابیده. رنګ یې زیړیده او ډنګریده. هره ورځ به یې د هغې مور بې دلیله وهله. کله کله به یې خپل اندیوالان کور ته راوستل او شراب یې ور سره څښل. کله چې به ښه نشه شو، نو د مکۍ او د هغې د مور په وهلو به یې پیل وکړ. کله کله به یې چرس او هیروین هم څکل. له هغه وخت نه چې یې د هیروینو څکل پیل کړي وو، له ښځې ، لور او کور څخه بیخي بیزاره شوی و.

مکۍ ته یې د یوې ګاونډۍ خبره ور په یاد شوه چې د هغې مور ته یې ویلي وو: <<فکر نه کوم*چې میړه دې ښه شي؛ هغه هیرویني دی. آخر به له دې نه مړ شي.>>

په دې شپه د مکۍ پلار کور ته را نغی . مکۍ او مور یې ورته ډیر انتظار وایست وروسته یې مور مکۍ ته وویل:<<ځه بچیه، بیده شه. خدای خبر چې پلار به دې چیرته په نشه کې ډوب پروت وي؟>> بیا یې رڼا مړه کړه او په بستره کې وغزیده.

مکۍ ته خوب نه ورته. په یو او بل اړخ اوښته را اوښته.

د غاټول داغ

کله به يې په خيال کې يوه غټه بلا مخې ته ورتله چې د هغې پلار يې تر مرۍ نيولی او وژني يې. ډول ډول فکرونه يې په سر کې تيريدل. له ځانه سره به يې ويل : <<که پلار مې مړ شي ، نو مور ‌ به څه کوو؟ ماته به د ښوونځي کالي څوک اخلي؟>> په دې ځُرتونو بيده شوه.

مکۍ دوئ په يوه غريبه سيمه کې اوسيدل. د دغه ځای په تنگو کوڅو کې موټر نه شوای تللای . نوی سهار شوی و چې د کور ور يې وټکيده. مکۍ او مور يې وارخطا له ځايه پاڅيدل . ټک ټک ناشنا غوندې و. مکۍ لږه وډار شوه. د مکۍ مور ور پرانيست؛ گوري چې د کلي خلکو يوه جنازه په اوږو ايښې ده او کور ته راننوتل. غولي په منځ کې يې د جنازې کټ کښيښود. په کټ کې د مکۍ پلار په ډير بد حالت کښې مړ پروت و.

مکۍ او مور يې کريکې کړې او په چيغو يې پيل وکړ . د هغوئ په چيغو نور گاونډيان هم له خوبه را پاڅيدل او په منډه د هغوی کره راغلل. کله چې يې د مکۍ د پلار مړی وليد، نو يوه يې وويل:

<<د هيروينو نتيجه همداسی وي؛ خدايه، مو ‌ له دې بلا څخه وساتې ! >>

د غاټول داغ

د اوړي په يوه توده ورځ کې چې زه د ښوونځي په لور روانه وم، د موټر تم ځای ته نژدې مې يوې ښځې لاس ونيو او د پيسو غوښتنه يې وکړه. دغه ښځه، چې يو ماشوم يې هم په غېږ کې و، هر چا ته و يل:<< د خدای له پاره له ما سره مرسته وکړئ. له دې معصوم ماشوم سره مرسته وکړئ. زه ډېره بدبخته او بېوزلې يم.>> هغه خلک چې د موټر په تم ځای کې وو، چا ور ته روپۍ او يا اته انيز ورکاوه او ځينو به ځواب ورکاوه چې معاف مو کړه، ماتې پيسې نه شته . د ښځې له څېرې او کاليو څخه څرګنديده چې ډېره بېوزلې او ډېره کړېدلې ده.

کله چې ما هغې ښځې ته ښه وکتل، فکر مې وکړ چې هغه مې چېرته مخکې ليدلې ده. څېره يې ډېره اشنا وه. هغې هم چې ماته وکتل، کوښښ يې وکړ چې مخ په خپل تور رنګه زوړ پوړني کې پټ کړي او بلې خوا ته لاړه شي. ما ترې پوښتنه وکړه:<< خورې، لکه چې ته مې په کوم ځای کې ليدلې يې؟ ستا څېره راته اشنا برېښي.>> هغې ځواب راکړ:<< نه، خورې. ښايي غلطه کړې دې يم. ما ته و نه

پيژاندی.>>

خو ما غلطه کړې نه وه. هغه په کابل کی زموږ همکاره وه. هغه یوه تکړه ښوونکې وه چې اوس یې داسې بده ورځ درلوده. ورته مې وویل:<< په یاد مې شول . ته زهرا یې!>> هغې راته وویل:<<د خدای له پاره پرې مې ږده؛ زه زهرا نه یم. هغه زهرا چې تا لیدلې وه، مړه شوی ده، زه یوه بدمرغه او بې وزله ښځه یمه.>> ما ورته وویل:<< زهرا، دا څه چل دربانديې شویدی؟ ولې په داسې بده ورځ اخته شوې یې؟ ما ته یې ووایه؛ ښایي څه مرسته در سره وکړای شم.>> له ډیرې گرمۍ نه مو له مخ څخه خولې بهیدلې. هغه مې له ځانه سره کور ته بوتلله. له هغې څخه مې د هغې د ژوند پوښتنه وکړه، هغې راته خپله قصه داسې پیل کړه:

تا خو په کابل کې زموږ ژوند لیدلی و. زه ښوونکې وم او میړه مې، سرتور، په یو دفتر کښې کار کاوه. ښه ژوند مو درلود. کله چې په کابل کې جګړه پیل شوه، یو راکټ زموږ په کور ولگیده. خسر، خواښې او دوه ماشومان مې ځای په ځای مړه شول.کور مو هم له منځه لاړ. ژوند مو بیخي ړنګ شو. برباد شوو، د کابل وضعه هممغسې ورځ په ورځ خرابیده. نو موږ مجبور شوو چې پاکستان ته راشو.کله چې دلته راغلو، زما یو ماما له مخکې همدلته و. موږ ته یې په خپل کور

کې یوه کوټه راکړه. زه او میره مې ډیر دکار د پیدا کولو پسې وګرځیدو. ټولو ښوونځیو او دفترونو ته لاړو، خو موږ ته کار پیدا نه شو. ډیر په تکلیف وو. د ماما په مرسته مو شپې ورځې سبا کولې

یوه ورځ چې په کور کې ناسته ومه، ماما مې ډیر خوشحاله کور ته راغی او ویې ویل:<< سرتور د قصاب له زوی سره کراچۍ ته لیږم. وایي چې هلته کار زیات دی. خدای دې وکړي چې یو ښه کار ور ته پیدا شي. سرتور هم ډیر خوشحاله شو. غوټۍ او کریم، زموږ بچو، به یو بل ته ویل:«پلار به مو له کراچۍ څخه ډیر څیزونه راوړي. ماته ښایسته موټر او تاته به نانځکه راوړي.»

پنځه میاشتې د حمید په انتظار کې وو. یوه ورځ ماښام ور وټکیده. غوټۍ ته مې وویل:<< ور شه بچیه، ور بیرته کړه چې څوک دی؟>> کله چې غوټۍ ور پرانیست، ویې ویل: «موری خیرات خور دی.>> د غوټۍ خبره لا نه وه خلاصه شوې چې سرتور کوټې ته راننوت. وضعه یې ډیره ګډه وډه وه. ډیر زاړه او خیرن کالي یې په غاړه وو. لومړی ما هم و نه پیژانده. ویې ویل:<< زه سرتور یم. ولې راته داسې حیران ګورې؟ څه ښکري خو مې نه دي شوي؟>> زما له خولې څخه یو وارې چیغه ووتله:<< دا څه در باندې شوي دي؟ روغه

يې؟>>په ډير قهر يې ځواب راکړ:<< په ما هيڅ نه دي شوي،
يوه اونۍ وشوه چې له کراچۍ څخه راغلی يم.>> ورته مې
وويل:<< نو په دې يوه اوونۍ کې چيرته وې؟ ولې کور ته نه
راتلې؟>> هغه پرته له دې چې زما پوښتنو ته ځواب راکړي
زما په وهلو يې پيل وکړ او ويې ويل:<<بيا له ما څخه
پوښتنه کوې چې چيرته وم؟>>

تر هغه وروسته به بيا د شپې او ورځې ورک و. يوازې
به د پيسو د اخيستلو له پاره کور ته راته. د کور ټول
سامان مو، چې دوستانو او خپلوانو را کړی وو، خرڅ کړل.
زما گاڼه يې هم وپلورله. نور د پلورلو له پاره په کور کې څه
نه وو پاتې. حتی د وچې ډوډۍ له پاره مو پيسې نه درلودې.

يوه ورځ چې زه د کور په پاکولو بوخته وم، هغه راغی
او ويې ويل:<<د کور دخرڅ له پاره په کور کې څه نه شته. ما
له يوه سړي سره خبری کړې دي چې غوټۍ په فرزندۍ ونيسي.
هغه سوداگر دی. غوټۍ به د خپلې لور په شان وساتي.»
ما د دې خبرې په اوريدلو ډير وژړل. د هغه پښو ته مې
ځان ورواچاوه، ورته ومې ويل:<< زه به خيرات وغواړم، د
خپلو اولادونو خرڅ به پخپله پيدا کوم. ته د کور د خرڅ نه
بيخي بيغمه اوسه.>> ويې ويل:<< ډيرې خبرې مه کوه.
دا زما پريکره ده. ما له هغه سره خبره کړې ده. سبا راځي،

غوټۍ بیایي او بس.»

ټوله شپه مې په ژړا تیره کړه. ډیرې چیغې او زارۍ مې وکړې. خو هیچا وا نه وریدې. په سبا یې یو سړی کور ته راغی، هغهٔ هم زاړه کالي اغوستي وو د پوډریانو په شان ښکاریده. سرتور د غوټۍ لاس د هغه په لاس ورکړ او ور ته و یې ویل: << ځه، له ماما سره دې لاړه شه.>> غوټۍ ما ته وکتل او ویې ویل:<< مورې، ما چیرته لیږې؟ ته ولې ژاړې؟ ما بیرته راولې؟>>هغه سړي پنځه زره کلدارې زما میړه ته ورکړې او غوټۍ یې له ځانه سره روانه کړه . د غوټۍ غږ تر لرې ځایه اوریدل کیده چې هغه سړي ته یې ویل:<< ما چیرته بیایې؟ مور مې ولې ژاړي؟ ما بیرته راولې؟>>

<<ما دومره وژړل چې چیغې مې اسمان ته لوړې شوې. خو هیچا راسره مرسته و نه کړه. غوټۍ مو له لاسه ووته . سرتور پنځه زره کلدارې په یوې میاشت کې په پوډرو خلاصې کړې. ماما مو هم له کوره وایستلو. نو اوس دغه دی چرکوم. چې د دې ماشوم له پاره خواړه او د سرتور له پاره د پوډرو پیسې پیدا کړم. ځکه ډاریږم چې کریم هم لکه غوټۍ را څخه خرڅ نه کړي. هیڅ چاره مې نه شته. د سرتور دا تباه کونکې ناروغي هم چاره نه لري. د لور غم له یوې خوا او د سرتور غم له بله پلوه بیخي لیونۍ کړې یم. هیڅ نه پوهیږم چې ولې

خدای جل جلاله داسی بده ورځ په موږ باندې راوسته؟ تر څو به زه دا غم زغمم؟ زما په شان به هیڅوک داسې بدمرغه نه وي لکه زه چې یم.>>

د زهرا قصی زه بیخي حیرانه کړم. ما هم ورسره وژړل. بیا مې ورته وویل:<< زه در سره مرسته کوم چې سرتور له دې بلاڅخه وژغورو.>> هغې وخندل او ویې ویل:<< کاشکې ژغورل کیدلای! د سرتور د جوړیدو هیڅ امکان نه شته. هغه هره ورځ زهر خوري. د وجود رگ رگ یې له زهرو ډک دی. هغه هیڅ چاره نه لري؛ خو زړه مې په دې ماشوم خوږیږي چې د ده راتلونکی به څومره بده وي.>> ما هغې ته ډاډ ورکړ او ورته ومې ویل:<< زه خبره یم چې دا ناروغي علاج لري. د نجات سنټر په نوم یو ځای دی چې دا ډول ناروغان وړیا تداوي کوي. هلته به ولاړ شو او پوښتنه به ور څخه وکړو. و به گورو چې هغوئ څه وایي. ما له سوونځي څخه رخصت واخیست او له زهرا سره نجات سنټر ته ولاړم. ټوله موضوع مو ور ته وویله. هغوئ وویل:<< موږ حاضر یو چې له تاسې سره هر ډول مرسته وکړو. یو وارې سرتور دلته راولئ. په یوه میاشت کې به انشاءالله بیخي ښه شي.>>

سبا مو سرتور نجات سنټر ته یووړ. هلته ډیره گڼه گوڼه وه. ټولو غوښتل چې یو له بل نه مخکې شي. څرنگه چې د زهرا ناروغ ډیر دردیدلی وُ او تر نورو یې وضعه خرابه وه، مسوولو کسانو تر نورو

کلیوال هلک



مخکې کړ. ډاکټر سرتور وکوت او ویې ویل چې باید بستر شي. هلته یې بیا سرتور ولمباوه ، پاک کالي یې ورته واغوستل او مور ته یې وویل:<< تاسې ولاړې شئ، کولای شئ چې هره ورځ ځلور بجې د سرتور پوښتنې ته راشئ.>> ما زهرا د هغې له ماشوم سره خپل کور ته بوتلله. څو ورځې په ډیرو دفترونو وگرځیدو چې که کار ورته پیدا شي. خو له بده مرغه پیدا نه شو. زهرا وویل:<< زه هیڅ طالع نه لرم.>> ډیره نامیده شوې وه: همداسې د حمید پوښتنې ته لاړو. هلته د نجات سنتر د مسوولینو څخه یوه تن لومړی موږ ته د سرتور د جوړیدو مبارکي راکړه او ویې ویل:<< که بل کوم مشکل هم لرئ، موږ ته یې ویلای شئ.>> ما د زهرا له بیکارئ ورته وویل چې هغه ښوونکی او هم تکړه خیاطه ده. هغه وویل:<< تاسې فکر مه کوئ. موږ به کوښښ وکړو چې مشکل یې حل کړای شو.>>

کله چې موږ غوښتل سرتور، چې بیخي جوړ شوی و، کور ته بوځو، له مسؤولینو څخه یو سړي موږ د نجات سنتر دفتر ته وغوښتو او هلته یې د گنډلو یو ماشین زهرا ته سوغات ورکړ.

د سرتور د جوړیدو به یو کال شوی و چې یوه ورځ یې کور ته ورغلم. ژوند یې ښه شوی و . زهرا خیاطي کوله او سرتور چرگان خرڅول. خو یو غټ غم یې لا تر اوسه همهغسې په زړه کې پاتې دی چې د هغې له کبله سرتور ځان هیڅ نه بخښي. هغه د غوټۍ غم دی. هغوئ په لټه کې دي چې غوټۍ هم پیدا کړي.

لنډه خوښي، اوږد کړاو

سپوږمۍ رڼا خپروله. د کور باغچه له رنګ رنګو ښکلو ګلانو ډکه وه. نرم شمال لګیده او د ګلانو ښاخونه یې یو لوري او بل لوري ته ښورول. د نجونو خوږو غږونو د موزیک د ښکلي غږ سره یو ځای د کور فضا ډکه کړې وه.

ټوله شپه غاټول او میلمنو یې دومره ونڅل، دومره یې وخندل او دومره یې وخښل چې نور بیخي ستړي شو.

ورو ورو ټول بې حاله کیدل او د بیده کیدلو ځای ته یې ځانونه رسول. سهار ته نژدې غاټول هم د نورو میلمنو

کلیوال هلك

د بر کلي خلک ډېر خوشحاله وو، سړو خپل کار نن لږځه وختي بس کړ او له مځکو څخه کورونو ته ستانه شول. ښځو او ماشومانو هم د کورونو شاوخوا پاک کړل او اوبه یې پر وشیندلې. له مځکې څخه ډېر خوږ وږم پورته کیده.

چنار کاکا هم دنورو کلیوالو په شان وختي کور ته راغی. ماښامنۍ یې تر نورو ورځو لږ څه مخکې وخوړه. سره له دې چې ګیډه یې مړه نه شوه، د خدای جل جلاله شکر یې وواېست. له خپل ځای نه راپاڅید، زوړ پټو یې له ځانه چاپیر کړ او د څپلیو د پښو کولو په وخت کې یې خپلې ښځې ته وویل:«میرزا خان له ایران څخه راغلی دی ؛ د هغه ستړي مشي ته ځم.»

****

میرزا خان په توشک ناست و او یو غټ بالښت ته یې تکیه کړې وه. د کلي خلک یې لیدلو تـه راتلل. لویان میرزا خان ته نږدې په کټ کې کښیناستل او هلکان دُ حُجرې د وره سره . ټولو په میرزا خان کې سترګې ښخې کړې وې. هغه د ایران او خپل کاروبار په هکله غږیده. د ایران د ښارونو ښایست یې ستایه. د بریښنا خبرې یې کولې او ویل یې چې شپه لکه د ورځې روښانه کوي. د سینما، د قیر سړکونو او د خپل کار خبرې یې کولې، چې څومره ښه کار لري او په لږ وخت کې یې څومره زیاتې پیسې پیدا کړي دي. مقصد د هر څه په باره کې یې کیسې کولې.

د کلي خلک ټول غلي وُو او د میرزا خان کیسو ته یې غوږ ایښی وو.

*****

شپه ډیره تیره شوې وه چې چنار کاکا میرزا خان ته مخ ورواړاوه او ور ته ویې ویل:«د بخیل سترګې دې ړندې وي! اوس به دې د خدای په فضل روزګار ښه شوی وي. ډیرې پیسې به دې ګټلي وي؟» میرزا خان یې خبره غوڅه کړه او ورته ویې ویل:<< په ایران کې کار ډیر دی. په لږ زحمت سره ډیرې پیسې لاس ته راځي. ایران زموږ د کلي په شان نه دی چې سړی ټول کال کار وکړي او ګیډه یې هم مړه نه شي. هلته پیسې دي، پیسې.>> دې کیسو د چنار کاکا زړه ته سودا واچوله او د پیسو د پیداکولو په فکر کې شو. زړه یې و چې میرزا خان ته یو څه ووایې. خو خوله یې نه جوړیده. آخر یې خوله د میرزاخان غوږ ته ورنږدې کړه او ورته ویې ویل:«څوک دې دکار له پاره نه دی په کار ؟ که کیږي زما زوی لونګ له ځانه سره بوځه . ډیر خواریکښ هلک دی. له تا سره به هلته کار وکړي.>>

میرزا خان رښتیا هم داسې یو کلیوال هلک ته اړ ؤ چې هم ور سره په کار و بار کې په صداقت مرسته وکړي او هم خبره واوري. په زړه کې ښه خوشحاله شو؛ خو له دې کبله چې چنار کاکا ترې ډیره مزدوري ونه غواړي او خپل احسان پر واچوي، ورته یې وویل:«که څه هم چا ته اړ نه یم، د کار له پاره خلک ډیر دي؛ خو ستاسې زور څوک لري؟ زوی به دې زه له ځانه سره بوځم؛ خو ژمنه به راسره کوي چې له کار څخه به نه تښتي او ډیر به راته وطن هم نه یادوي.»

* * * * *

لمر لا نه و راختلی چې میرزا خان د چنار کاکا کور ته ورغی. هغه تگ ته چمتو و. لونگ له ډیرې خوښۍ نه په جامو کې نه ځایده. مور یې لگیا وه کالي یې ورته راغونډول. په کالیو کې یې ورته دوه درې پتیرې هم کښیښودې. میرزا خان غږ وکړ:«ژر کوئ چې ناوخته کیږي.»

د چنار ښځې د زوی کالي را غونډ کړل؛ بیا یې زوی څو کرته ښکُل کړ او ورته ویې ویل:<< لونگ بچیه، پردي وطن ته ځې. ځان ته دې پام وي چې له میرزا خان څخه لرې لاړ نه شې. هغه چې درته څه ویل همهغسې کوه.>>

کله چې لونگ له کور څخه ووت، مور یې ور پسې یوه کاسه اوبه وشیندلې او دُعا یې ورپسې چوف کړه.

چنار کاکا خپل زوی ته وویل:<< ځه، خدای دې له بدو وساته! مور ته دې احوال ژر ژر رالیږه.>>

کله چې میرزا خان او لونگ روان شول، مور یې ور پسې ژړا پیل کړه. چنار کاکا خپلې ښځې ته ورنژدې شو او ورته ویې ویل:<<خوک چې چیرته د کار پسې ځي، ژړل ورپسې ښه نه دي، مه ژاړه.>>

تر څو چې یې سترگو کار کاوه، مور یې ور پسې کتل.

* * * *

کله چې ایران ته ورسیدل، لونگ په ډیرې خوښۍ په کار پیل وکړ. میرزا خان به هره ورځ پلاستکي پوڼۍ، چې سپین پوډر په

کښني و، لونګ ته ورکول چې د میرزا خان انډیوالانو ته یې وروړي. میرزا خان به کله کله تر دې ساده کار وروسته څه بخشش هم ورکاوه. لونګ به د بخشش او مزدورۍ پیسې ټولې میرزا خان ته ورکولې چې ورته وېې ساتي. لونګ ورځ په ورځ د ایران په ښارونو کې بلدیده. له نوو خلکو سره آشنا کیده او نوې خبرې یې زده کولې. کله کله به پټ سینما ته هم ته. په شپږو میاشتو کې یې، د خپلو ځینو وطنداړانو په لاس، کور ته دوه درې کرته خپل احوال او څه سوغاتونه هم ولیږل. لونګ هیله درلوده چې یوه ورځ به خپل کلي ته ستون شي، خلک به یې د میرزا خان په شان سترې مه شې ته راشي. یو ښایسته کور به جوړ کړي او په مړه ګیډه به ډوډۍ وخوري.

****

لونګ نن هم د نورو ورځو په څیر، پاکټونه په یو لاسي بکس کې کښېښودل. تر دې وخته پورې نه پوهیده چې په پاکټونو کې څه شی دي او میرزا خان ولې د پاکټونو تر رسولو وروسته بخشش ورکوي؟ هغه نه پوهیده چې میرزا خان د هیروینو قاچاق کوي او له همدې لارې یې دومره ډیرې پیسې لاس ته راوړي چې د لونګ د مزدورۍ او بخشش پیسې هغه ته هیڅ هم نه دي.

له دې کبله چې دا ځل پاکټونه لږ ډیر وو او میرزا خان غوښتل چې ډیر ژر یې کوم بل مرکز ته ورسوي؛ نو لونګ یې د خپل یو انډیوال په موټر کې ولیږه . د هغوئ له حرکت نه لا لږه شیبه نه وه تیره شوې چې مخې ته یې د څارندویو ګزمه راغله. د میرزا خان انډیوال د

ګُل له زهرو ډک دی

ځارندویو له ډاره، چې له هیروینو سره یې یو ځای ګیر نه کړي، لاره چپه کړه. په ډیرې چټکۍ سره یې د موټرمخ بلې خوا ته کړ او غوښتل یې چې وتښتي پولیسو چې ورته هر څومره اشارې وکړې، هغه موټر و نه دراوه. نو پولیس مجبور شول چې ډزې وکړي. د موټر بادۍ څو ځایه سورۍ شوه. څو ګولۍ په لونګ ولګیدې. له ټپونو څخه یې وینې بهیدلې. هغه نه پوهیده چې څه پیښ شوي دي. ولې ځارندوۍ په هغوۍ ډزې کوي؟ د میرزا خان انډیوال ته یې وویل:<< موټر ودروه، ولې ځارندوۍ په موږ ډزې کوي؟ ښایي څه اشتباه یې کړې وي؛ ور ته ودریږه.>>

دریور، چې موټر یې نور هم ګړندی کاوه، ورته وویل:<<په موټر کې هیروین دي. که پولیس مو ګیر کړي، موږ دواړه وژني.>> په دې وخت کې یې موټر یوې بلې لورې ته ستون کړ او له هغه ځایه په ډیره بیړه وتښتید. د لارې په اوږدو کې د لونګ سترګې تورې تورې کیدې او سریې ګرځیده. له ځانه سره یې فکر کاوه چې هیروین څه شی دي چې ورل یې دومره غټ جرم دی؟ حتماً به ډیر قیمتي وي. ښایي دا په پوڼیو کې سپین پوډر هیروین وي. نور یې د خبرو توان نه درلود. خپل کلی ، مور او پلار ور په یاد شول، چې هغه په غیږ کې نیسي. لونګ چې هر څومره کوښښ کوي چې د هغوۍ لاسونه ښکُل کړيٰ ، شونډې یې نه ور رسیږي. نور له ځانه بیخوده شوی و. کله چې دریور موټر ودراوه، لونګ په شاتني سیټ کې مړ پروت و.

ګل له زهرو ډک دی

بوی یې نشته ، رنګ یې شته

د تیرې شپې باران، باد او جکړ د کلي فصلونه له بیخه ایستلي وو. د کلي کوڅې له ختو ډکې وې. پُه هر ځای کې باران د اوبو ډندونه جوړ کړي وو. د کلیوالو په څیرو کې د ویر او خواشینۍ نښې له ورایه، څرګندیدې او یو نیم به له ډیرې غصې او قهر څخه مخ اسمان ته کړ او و به یې ویل :
«خدایه، ته په خپلو کارونو ښه پوهیږې.›› خو د کلي «لیونۍ ابۍ»بیا نن ډیره خوشحاله وه. له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایدله. منډې به یې وهلې او خنداګانې به یې کولې. کله چې به یې خندا غلې شوه، نو له ځانه سره به یې دا زمزمه کوله:‹‹ ګل له زهرو ډک دی ، بوی یې نشته، رنګ یې شته ...ګل له زهرو ډک دی، بوی یې نه شته، رنګ یې شته.› ›› د

لیونی ابی د لیونتوب کیسې له کلیوالو څخه په ښار کې اوریدلې وې. چې کلي ته ورغلم، غوښتل مې چې یو وار هغه له نژدې څخه وګورم. کله چې مې د هغې لوړه خندا واوریده، قصد مې وکړ چې نن به خامخا ورسره ګورم. د هغې د خندا له غږه مې هغه پیدا کړه، هغه د کوکنارو د یوه پټي په پوله ناسته وه. یو بوټی به یې په څمکه، څمکه واهه، او له ځانه سره به یې ویل:<<تخم یې ورکوم ...وژنم یې ... دا قاتل دی؛ قاتل باید په دار وځړول شي، پانسي شي؛ سنګسار شي!>> خو کله چې یې سترګې په ما ولګیدلې، ورو یې سر را پورته کړ او د خپل تور زړوکي په پیڅکه یې د خپل مخ خولې پاکې کړې او ویې ویل:<< ته ولې ولاړ یې؟ ته یې هم ووژنه. ته خو زلمی یې. قاتل په سترګو ګورې او وژنې یې نه. دا ووژنه. دا مړه کړه!>> ما هم د لیونی ابی د خوښی له پاره څو بوټي له کروندې څخه راوایستل او په څمکه څمکه مې ووهل..<<دا دی مړه مې کړل، و مې وژل.>>هغې چې ماته وکتل، نو خوشحاله شوه، او خندا یې ټوله فضا ونیوله. کله چې یې خندا لږ څه غلې شوه، ما ترې وپوښتل:<< ابی، ولې نن داسې خوشحاله یې؟>> لیونی ابی ورو مُسکی شوه او ویې ویل: «زویه، ولې به نه خوشحالیږم. نن زما د ښایسته، ګلالي او تنکي زلمي زوی قاتلان ټول په خاورو کې سپیره پراته دي. ټول

رڼا په تورتم کې

مړه شوي، سنگسار شوي، پانسي شوي دي.›› ما په وارخطايي ترې وپوښتل:‹‹ ابۍ، کوم زوی؟ کوم قاتل؟ دا ته څه وايې؟›› ليونۍ ابۍ د کوکنارو کروندې ته گوته ونيوله او په زوره يې چيغه کړه:‹‹ زما د زوی قاتلان دا کوکنار دي. اپين دي. دا د زهرو ډک بوټي دي. نن ځکه خوشحاله يم چې د کوکنارو ټوله کرونده د بيگاني باران او جکړ له امله له خاورو سره خاورې شوې ده. سږکال به دا قاتلين د هيچا زوی مړ نه کړي او هيڅ يوه مور به زما غوندې بوره نه شي.››

رنها په تورتم کې

یوه ورځ چې په یوه موټر کې ښار ته د تګ له پاره ناست وم، یو ډنګر او رنګ الوتی سړی، چې خیرې او زاړه کالي یې اغوستي وو، د موټر کړکۍ ته رانږدې شو او د خیر غوښتنه یې وکړه. ما غوښتل چې یوه روپۍ ورکړم، خو زما په څنګ کې ناست سړي را ته وویل:«پوډري دی، پیسې مه ورکوه.»ما ترې پوښتنه وکړه:«پوډر څه شی دی؟»هغه ځواب راکړ:«بچیه، پوډر داسې زهر دی چې نیکمرغه کورنۍ بربادوي؛ بې ګناه او معصوم ماشومان بې وزلي کوي. دا تباه کونکې بلا چاره نه لري. یو وارې چې څوک پرې اخته شي، د عمر تر پایه باید دا بلا وزغمي.»
سړي لا خبره نه وه خلاصه کړي چې یو بل سړی، چې پاک کالي یې اغوستي وو او زموږ خبرې یې اوریدلې، وویل: ‹‹هر څه علاج لري، خدای جل جلاله د هر څه له پاره یوه چاره هم رالیږلې ده. زه د مخدره موادو په ضد یو مرکز کې، چې د نجات سنټر نومیږي کار کوم. په دې مرکز کې د هیروئینو ډیر نشه یان تداوي شوي دي او خپل عادي ژوند یې پیل کړی دی. زه به تاسې ته په دې اړوند یوه په زړه پورې کیسه وکړم چې باور مو راشي، د پوډریانو علاج کیږي. یوه ورځ یوه بیچاره او بې وزلې ښځه د خپلې لور سره نجات سنټر ته راغله او خپله کیسه یې داسې پیل کړه:

* * *

«زه یوه بیچاره ښځه یم. دوه ماشومان لرم. تورپیکی لس

کلنه ده او زلمی څلور کلن دی. زما میړه، پسرلی، سوداګر و. موږ د کابل په شهرنو کې څو دُکانونه درلودل. د جګړې له کبله په کابل کې ژوند ورځ په ورځ خرابیده. هلته مو دوه کورونه درلودل. یو مو لږ په لوړه بیه خرخ کړ. مجبور شوو چې کابل پریږدو او پاکستان ته راشو. زموږ د روانیدلو په وخت کې یو راکټ زموږ په کور ولګیده. وروسته خبر شوو چې د کور کالي مو هم لوټ شوي دي. یو څه پیسې مو له ځانه سره راوړې وې؛ په هغې مو د ژوند لومړنۍ اړتیاوی پوره کړې. پسرلي د خپل یو دوست سره مشوره کړې وه چې که دلته یو دُکان پیدا کړای شي او خپل کار دلته پیل کړي ښه به وي. د پسرلي ملګری، چې له بده مرغه هیروینی و، موږ ته یو بل کړاو جوړ کړ. پسرلی به د دُکان په بهانه سهار وختي له کوره وته او ماښام ناوخته به کور ته راته.

پسرلي ته خپله کورنۍ ډیره ګرانه وه. له ټولو سره به یې ډیر ښه چلند کاوه. تل به یې غوښتل چې په کور کې پاتي شي. خپلو ماشومانو سره به یې ټوکې کولې او هغوی به یې خندول. توریپکۍ او زلمي چې به کله د ور زنګ واورید، نو دواړو به د وره په لور منډه کړه او چیغې به یې وهلې: «پلار مې راغی، پلار مې راغې!» پسرلي به هم ځواب ورکاوه: «راشئ چې تاسې ته مې څه شی راوړي دي.» هغه هیڅ وخت خالي لاس کور ته نه راته. خو دُکان زموږ له پاره ستر کړاو شو. اوس پسرلی هغه ښه پسرلی نه و. په ورځو ورځو به د دُکان په بهانه ورک و. کله چې به مې ترې پوښتنه وکړه چې دُکان څنګه شو، ویل به یې چې پیسې مې

په شان کوښښ کاوه چې ځان د خوب خونې ته ورسوي، چې سر یې د ونې له یو ښاخ سره ولګیده او لږ په حال شو. د غاټول ټول انډیوالان یوه خوا او بله خوا بیده پراته وو. چوپه چوپتیا وه. د ساز او سندرو، خنداګانو او نڅاګانو غږونه غلي شوي وو. هیڅ غږ نه اوریدل کیده. خو یوازې د غاټول د ضمیر غږ و چې پوښتنه یې کوله :

«بیګا دې څه حال جوړ کړی و؟ ټول کور دې په سر اخیستی و. ته فکر کوې چې ژوند یوازې عیاشي او ساعت تیري ده؟ پیسې یوازې د همدې له پاره دي؟ ته به همیشه همداسې شتمن یې؟ لږ د سبا په فکر کښې شه. همیشه به دې دا شتمني نه وي. خپله ځواني هسې له لاسه مه ورکوه. د نشې جګړ به دې ستړه وباسي. ستا اوستا د انډیوالانو دا مستي او خوښي تیریدونکی ده. لږ د ټولنې او خلکو په فکر کې شئ. تاسې باید داسې کار وکړئ چې ټولنې ته مو ګټور وي.»

غاټول به همیشه له خپل وجدان سره په جګړه و، خو ځان یې هیڅ بدل نه کړای شو. له همدې کبله، هر څه چې یې لرل ټول یې له عیاشۍ او نشې نه قربان کړل. ژوند یې ډیر خراب شو. ښیری او خیرن کالي به په کوڅو او لارو

مسعود ته ورکړي دي، هغه په پېښور کې ښه بلد دی او ډېر خلک پېژني. ښايي په دې يوه مياشت کې موږ ته دُکان پيدا کړي .کور ته به ډېر نه راته، کله چې به راغی ماشومان به يې رټل او خبرو کولو ته به يې نه پرېښودل. ورته به يې ويل: «غلي، شئ ډېر مه ګړېږئ.» ما يوه ورځ ترې پوښتنه وکړه: «ولې له ماشومانو سره مينه نه کوې؟» په ژوند کې مې لومړی ځل و چې پسرلی يو وار په قهر شو او زما په وهلو يې پيل وکړ: «کله چې تورپيکی او زلمی له ډاره په منډو شول، هغوی يې هم ووهل او ورته وې ويل چې نور مو غږ وانه ورم. له ما څخه نوره پوښتنه و نه کړه چې دُکان څنګه شو او پيسې مې څه کړې . آخر خبره دې ته ورسيده چې پسرلی به په شپو شپو ورک و او کور ته به نه راته. زه او دوه ماشومان به سرګردانه ور پسې ګرځېدلو او هغه به مو سوي لاسونه او شکېدلي کالي کور ته راوست.»

«تورپيکی به کله کله له ما نه پوښتنه کوله چې موري، په پلار مې څه چل شوی دی؟ ولې ورته موږ لکه پخوا ګران نه ياستو؟ ولې له موږ سره لوبې نه کوي؟ ولې دومره چټل او خيرن دی؟ ما د دې معصوم ماشوم پوښتنو ته پرته له ژړا هيڅ نه درلودل.»

«زما او د ماشومانو ژوند ورځ په ورځ خرابيده. تقريباً څلور کاله مو په دې بدبختيو تير کړل. د کور سامان ،ګاڼه او نور څه چې مو درلودل ټول مو خرڅ کړل. هر څه د پسرلي په پوډرو ولګيدل. نور د خرڅولو له پاره څه نه وو پاتې چې د کور کرايه په ورکړو. د خوړلو له پاره هم څه نه و. ټولو دوستانو او خپلوانو د پسرلي له کبله، چې پوډري شوی و، له موږ سره اړيکې شکولي و . موږ مجبور شوو چې کور پرېږدو. ما په يو بل کور کې مزدوري پيل کړه. هغوی په کور کې د

اوسیدلو له پاره یوه کوټه راکړه. په کوټه کې یوازې یو گروپ و او بس. موږ پکه نه درلوده، او د پېښور سور اوړی مو بې له پکې تیر کړ. توړپیکۍ، چې لس کلنه شوی وه، په یو بل کور کې کار پیل کړ او ماشومان به یې ساتل. موږ ته یې په میاشت کې دوه سوه کلدارې راکولې. موږ چاره نه درلوده او په همدې ډول مو ژوند تیراوه. څو کرته مې وغوښتل چې ځان ووژنم . خو د دې دوو ماشومانو له خاطره مې ونه کړای شوه.»

«یوه ورځ مې چې توړپیکۍ مزدورۍ ته ورله، په لاره کې ودریده او ماته یې وویل: مورې، وگوره چې د ښوونځي د تگ وخت دی، دا نجونې ښوونځي ته ځي. زما هم ډیر زړه غواړي چې ښوونځي ته لاړه شم او د ښوونځي کالي واغوندم. سبق ووایم. خپل کتابونه پوښ کړم او دومره سبق ووایم چې ډاکتره شم. مورې، هغه زموږ د کابل کور څه شو؟ هغه زموږ موټر څه شو؟ ولې مې پلار ناروغه شوی دی او نه جوړیږي؟ بیا یې وویل: مورې، ما په ښوونځي کې داخله کړه چې ډاکتره شم او پلار مې تداوي کړم .»

«د توړپیکۍ پوښتنو زه لیونۍ کړې وم. زما د ژړا غږ دومره لوړ شوی و چې یو کس چې زموږ په څنگ کې روان و، پوښتنه وکړه: خورې، ولې ژاړې؟ دا ماشوم څه وایي او پلار یې چیرته دی؟ ورته مې وویل: وروره، ولې مو په زخم مالگه دوروې؟ میړه مې پوډري دی. د هیروینو په بې علاجه رنځ اخته شوی دی چې هیڅ چاره یې نه شته. هغه د دې خبرې په اوریدو لږ وخندل او ویې ویل: خورې، دا تکلیف علاج لري. زه به تاته یو ځای دروښیم چې دا ډول نشه یان وړیا تداوي کوي. زه هم ستا د میړه په څیر نشه یي وم. ژوند مو ډیر خراب شوی و.

B
3.522
BAZ
6032
97-1

ORA
ORPHANS
REFUGEES &
AID

International

* له نشې څخه پرته له بدمرغۍ . بل څه لاس ته نه راځي!
* نشه هم تاسې او هم ستاسې کورنۍ تباه کوي!
* له نشې څخه ځان لرې وساتئ !
* نشه یې د هر چا بدي شي!
* نشه او زهر یو شی دي!
* نشه یې سړی نه سړی !
* سګرټ او نسوار د بدمرغۍ پیل دی!

G.P.O. BOX # 594
Peshawar,Pakistan.

Publication founded by Norwegian Church Aid /
Norwegian Refugee Council. (NCA / NRC)

P 02 / 96 / P

زه په نجات سنتهر کې تداوي شوم او اوس ښه ژوند کوم. کوښښ کوم چې نورو ته هم هغه ځای وروښیم. د دې خبرې په اوریدو مې هغه سړي ته وویل: په خوله دې برکت شه! همدا اوس راته د معتادینو د تداوی ځای راوښیه او هغه هم دلته راوستم.»

❊ ❊ ❊

موږ ورته وویل : «یو وار پسرلی پخپله دلته راولی، چې ویې گورو.» د هغې په سبا یې پسرلی مرکز ته راوست او بستر مو کړ . وروسته له یوې میاشتې پسرلی بیخي ښه شو او خپل عادي ژوند یې پیل کړ. ژمنه یې وکړه چې نور به د اولادونو له پاره ښه پلار اوسم.»

«یوه ورځ چې زه خپل دفتر ته ننوتم، هلته راته یو ښه تکړه او غښتلی سړی، یوه میرمن او درې ماشومان سترگې په لاره و. له هغوی سره مې روغبړ وکړ. یوه لور یې را جگه شوه او ما ته یې د گلو یوه گیډۍ راکړه. زه حیران شوم چې دا به څوک وي؟ نو مې ترې پوښتنه وکړه. وبخښئ تاسې مې و نه پیژندئ؟ سړي وخندل او ویې ویل: زه پسرلی یم، دوه کاله مخکې همدلته تداوي شوی وم. هو، هغه تور او ډنگر پسرلی اوس په یو غښتلي او تکړه سړي بدل شوی و. لور یې وویل: زه هم غواړم چې ډاکټره شم او نشه یان تداوي کړم او هغه کورنۍ چې په دې ستونزه اخته دي، وژغورم.»

پای

نجات

کښنې پروت و. يوه ورځ يې خپلوانو په کوڅه کې مړ پيدا کړ. نه يې هغه د عياشۍ دوستان په درد وخوړل او نه يې نشه او مستي. څه سنه وايي چې <<بد گرځې بد به پرځې.>>

نجات

هغه همیشه دلویې لارې په غاړه کښیناسته، او خپله خولۍ یې د خیرات غوښتلو له پاره مخې ته ایښودله. وضعه یې دومره ګډه وډه وه چې هیڅ د ویلو نه ده. ناولی مخ او چټل لاسونه، څیري څیري او زاړه کالي یې داسې ښکاریدل لکه چې دی هم د ډیران یوه برخه وي.

په لاره کې ډیره ګڼه ګونه وه . هره ورځ به په زرګونو خلک په هغې کې ښکته پورته کیدل. ډیرو لږو خلکو به هغه ته کتل. ځینو به د هغه له څنګه د تیریدو په وخت ویل: «دا هم د جګړې نتیجه ده، مهاجرت په دې حال کړی دی.» بیا به یې په زړه سوي ورته کتل او څه

پیسې به یې د هغه مخې ته غورزولې او خپله لاره به یې نیوله. هغه به ماښام ماښام پیسې راغونډولې. په هغو به یې څه اخیستل او لوګي کول به یې.

ځینو خلکو به هغه ته په کرکه کتل او له ځانه سره به یې ویل: «له دې نه دې هم بدتر شي! پوډري دی. د نشې نتیجه همداسې وي!»

د هغه غوږونه له دې ډول خبرو سره عادي شوي وو. داسې خبرې یې ډېرې زیاتې اوریدلې وې. اوس ورته بیخي بې تفاوته شوې وې .

خو یوه ورځ یې یو سړی له څنګه تیر شو. خیرات خور ته چې یې وکتل، و یې پیژانده. له هغه سره یې څو کاله مخکې په زمکه دعویٰ وه. لاروی بیرته را ستون شو او هغه ته یې وویل: ‹‹ته خان محمد نه یې؟ په تا څه چل شوی دی؟ دا ځان دې په څه حال کړی دی؟›› کله یې چې د خان محمد کیسه واوریده، هغه یې له ځانه سره کور ته بوته. تشناب ته یې ننه ایست او ورته ویې ویل چې:‹‹ ځان دې پاک پریمنځه.›› بیا یې ور ته پاکې جامې ورکړې چې وایې غوندي . وروسته یې هغه د نشه یانو روغتون ته وروستـ او هلته یې بستر کړ. د روغتون مسوولو کسانو ته

د بې غورۍ نتیجه

يې وويل:« د ده په تداوی باندې چې هر څومره پیسې لګیږي زه یې درکوم؛مقصد چې دا سنه شي، هغوئ وویل:‹‹په دې روغتون کې د نشه یانو د دارو_ درملو له پاره پیسې نه اخیستل کیږي . مونږ هغوئ وړیا له مرګه ژغورو .

د بې غورۍ نتيجه

عبدالرحمن يوازې په زينه کې ناست او ژړل يې. تندار يې هغه د اوړي په توده هوا کې له کوره شړلی و. مخ يې لمر سوزاوه او خولو يې ټول کالي لامده کړي وو. هغه ته هغه شپې ورځې ور په ياد شوې چې پلار او مور يې ژوندي و، هغه به يې نازاوه؛ د ښوونځي کالي او کتابونه به يې ورته اخيستل. هغه وخت يې په کاکا او تندار هم ګران و. خو کله چې يې پلار او مور په کور کې د راکټ د لګيدو له امله مړه شول او هغه يوازې پاتې شو، نو کاکا يې هغه خپل کور ته ورروست . تندار يې ورسره ورو ورو بده وضعه پيل کړه. هره ورځ به يې هغه واهه اوځوراوه. هر څومره چې به يې وواهه، ده به غږ نه ويسته، ځکه چې تندار يې ورته ويلي وو: <<که چيغې دې ووهلې او يا دې تره ته وويل، وژنم دې!>>

تندار به يې تره ته ويل: <<څه ضرور ده چې عبدالرحمن ښوونځي ته لاړ شي؟ بې پلاره، بې موره دی. پرې يې ږده چې همدا د کور کار وکړي او زما کار لږ سپک شي. عبدالرحمن د خپلې تندارې له لاسه ښوونځی هم پرېښود، تره يې بد سړی نه و، خو له دې کبله چې شپه او ورځ بوخت و، د کور له حاله او د عبدالرحمن د بدې ورځې څخه نه خبرېده.

يوه ورځ يې تندار په ډير قهر سره له کوره وايست. له هغې

وروسته به عبدالرحمن په کوڅو کې لالهانده ګرځیده. یوه ورځ چې یوې چنې ته څرتي ناست و، و یې کتل چې درې څلور کسه سره یو ځای ناست وو. په یوه خالي سګرټ کې یې څه تور شیان اچول. بیا به یې هغه څکل.په دې وخت کې د یوه عبدالرحمن ته پام شو. ورته غږ یې کړ:<< دلته راشه.>>کله چې عبدالرحمن ور نږدې شو، ور ته ویې ویل: <<ښه زلمیه، و دې نه ویل چې ولې په څرتونو کې ډوب یې؟ څه در پیښه ده؟>> په دې ترڅ کې یې یو بل غږ کړ:<< ته هم لکه چې کوم لوی غم لرې؟ راځه دا د فقیرانو بوټی کش کړه چې دنیا در ته ګل و ګلزار شي او له غمونو څخه بې غمه شې. دا د هر رنځ دوا ده.>> عبدالرحمن ترې زړه نا زړه دوه درې لوګي کش کړل. ویې لیدل چې حال یې لږ ښه شو. غمونه او دردونه یې لږکم شول. د تندار وهل تکول، دپلار او مور مرګ یې هیر شول. نور نو عبدالرحمن د ،هغوی همیشنی ملګری شو.

یوه ورځ غلام علي، چې د دغې ډلې ملګری و او نوی له ایران نه راغلی و، هغو ته وویل:<< راځئ چې نن مې درته داسې یو شی راوړی دی چې په عمرونو عمرونو به یې مزه نه هیروئ. دې ته شاهانه نشه وایی، شاهانه.>> او بیا یې له جیب نه زر پاڼه راواویسته او په هغې یې سپین چکي شان پوډر واچول او لاندې یې ترې یو تیلی ولګاوه او

خُدایه موږ له دې بلا څخه وساتې !

د هغې لوگی یې کش کړ. عبدالرحمن هم ترې یو څو لوگي کش کړل. تر هغه وروسته یې فکر وکړ چې ښایسته ښایسته مرغان راغلي او هغه له ځانه سره د ښاپیرویو ماڼۍ ته بیایي. هرڅه یې هیر کړل او په خپله خیالي نړۍ کې ډوب شو. نور عبدالرحمن بیخي ځان نه پیژانده. شپه او ورځ به د خیالي ښاپیرویو سره بوخت و. یوه ورځ یې اندیوالانو په مټ کې څه اوبلن شی پیچکاري کړ. څو شیبې وروسته عبدالرحمن بیخي له خپل ځانه نا خبره په بله نړۍ کې و. شپې او ورځې په همدغه شکل تیریدې، چې یوه روځ یې ټول ځان او هډوکو ډیر شدید درد پیل کړ. له ډیر درد نه یې چیغې وهلې او تاویده را تاویده . کاکا چې یې د عبدالرحمن په لټه کې و، هغه یې په دې بد حالت کښې و موند. کاکا یې فکر کاوه چې عبدالرحمن مړ دی. څو کله یې چې هغه ولید حال یې له مړو هم بدتر و. هغه یې سمدلاسه یو روغتون ته یوړ. د کتنو له بشپړیدو وروسته ډاکترانو ته څرگنده شوه چې هغه په ایډز اخته دی. د هغه کاکا ته یې وویل: <<له بده مرغه چې هغه په ایډز اخته دی او د جوړیدو یی هیڅ چاره نشته! >>

کبله و چې استعمالولو یې پراختیا پیدا کړه او ډیرو خلکو ور ځخه په کار اخیستلو پیل وکړ. خو په لومړي سر کې یې ابتدایي بڼه درلوده. د وخت په تیریدو او د نشه یي موادو د کارولو په ډیریدو یې کرل او سوداګري هم پراخه شوه او د سوداګرۍ په شکل کې یې هم فرق راغی. د کوکنارو د پوستکو په ځای اپین منځ ته راغلل، د اپینو ځخه د هغۀ ډیر خطرناک مرکبات، لکه مورفین او هیروین را پیدا شول چې خلک پۀ ډیر ژر اخته کیږي . سره له دې چې دغه مواد لا تر اوسه هم په طب او دارو درملو کې کارول کیږي خو د استعمال ډیر بد شکل یې د نشې د راوستلو له پاره دی. له همدې کبله و چې د هغو په مقابل کې نړیوال بندیزونه را منځ ته شول او له طبابت ځخه یې پرته کارول او سوداګري منع شوه. خو انسان یوعجیب مخلوق دی. ځینې خلک که سبه پوه هم وي چې یو کار ورته زیان رسوي، خو بیا هم هغه کار کوي او نور هم ورته هڅوي. د نړۍ په اکثرو مذهبونو کې د نشه یي ځیزونو استعمال ښه نه دی ګڼل شوی.

د نشه یي ځیزونو د نه کارولو او د هغو د زیانونو ځینې دلایل په لاندې ډول دي:

۱. نشه یي سړی له کار و بار ځخه پاتې کیږي. خپلې ورځنۍ چارې ښې سر ته نه شي رسولای. نو پرته له دې چې ځان ته ځه نه شی کولای، پر کورنۍ او ټولنه باندې بار وي .

څه ښه وايي چې چرسي سړی نه سړی.

۲. نشه يي ته پوره خواړه نه ور رسيږي؛ يو خو هميشه بې خوده وي او پوره ډوډۍ نه خوري، له بل پلوه هر څه چې پيدا کوي؛ هغه په نشه لګوي. نو د خوړلو له پاره څه نه لري. له همدې کبله ورځ په ورځ ډنګريږي، رنګ يې زيړيږي، او د وجود مقاومت (تينګتيا) يې له منځه ځي او په ډيرې اسانۍ سره په ناروغيو اخته کيدای شي.

۳. نشه يي تل بې سده وي، نه يې ځان پاک وي او نه يې کالي. نو خپل ديني فرايض هم په ښه ډول پای ته نه شي رسولای.

له پاسنيو څرګندونو څخه برينبي، چې په نشه کې هم د دنُيا او هم د آخرت بدمرغي نغښتې ده.

دا چې ولې نشه يي ځيزونو دومره پراختيا پيدا کړې ده، څه عوامل يې مخکې ذکر شول، خو ځينې نورلنيز عوامل يې عبارت دي له: جګړې، هجرت، اقتصادي ستونزې، کورنۍ ستونزې، په مينه کښې ناکامي، د نشې په زيانونو نه پوهيدل، نالوستي(بې سوادي)، د ماشومانو په وړاندې د کورنۍ بې پروايي، د نورو بې ځايه تقليد او نور. خو ډيره عمده ستونزه د سوداګرو علاقمندي ده . دوی غواړي ډير خلک په دې رنځ اخته کړي چې خولۍ يې په غوړو کې شي . همدا راز نشه کونکي هم هڅه کوي چې خپله ډله غټه کړي. ځينې شخصي

علتونه هم شته، لکه د شخصیت خرابوالی، په ځان اعتبار نه درلودل، دستونزو په مقابل کښې بې وسي او نور. د همدغو پاسنیو علتونو له کبله ځینې خلک د نشې لمن ته ځان غورځوي چې که ډیر ژر یې مخنیوی و نه شي ، ډیرې زیاتې ټولنیزې ستونزې منځ ته راوړي.

د دې کتاب کیسې څرګندوي چې د ډیرو ټولنیزو ستونزو او د انسانانو د بدمرغیو سرچینه نشه کول دي. دغه کیسې ښیې چې نشه څنګه کورني اړیکي شکوي او نیکمرغه کورنۍ بدمرغه کوي. ددې کیسو په لوستلو سره څرګندیږي چې نشه بد شی دی.

هیله ده چې ټول، خصوصاً ځوانان، له ستونزو سره د مقابلې له پاره یوه معقوله لاره غوره کړي. د نورو بې ځایه تقلید و نه کړي او له دې لویې بدبختۍ څخه ځان وساتي. څوک چې په دې بد رنځ اخته دي، هغۀ پریښنولو ته وهڅوي چې په یو پریکنده هوډ سمه لاره غوره کړي او یا نشه یان هغو مرکزونو ته چې ددې مقصد له پاره کار کوي ورمعرفي کړي.

له ښاغلي پوهاند ډاکټر مُحمد رحیم الهام د جي ټي زید۔ بیفیر د تألیف او خپرونو د څانګې له کواردیناتور څخه ډیره زیاته مننه کوو، چې سره له ډیرو مصروفیتونو یې دا کتاب ولوست او اصلاح یې کړ.

په درنښت
ډاکټر مُحمد فرید بزګر
ژباړن او مُهتمم

لنډه خوښي اوږد کړاو



For the English Reader:

"O GOD, SAVE US FROM THIS CALAMITY!" (KhudAya mog la de balA zakha wasatE!)

This collection of eight short stories center around the evil of drug addiction and its terrible consequences on both personal and family lives and the wider community.

The introduction gives a very brief account of the drug usage in medicine, drug abuse and business. It emphatically points out the social, moral, economical and health calamities caused by drug addiction.

Each story is focusing on one disaster brought about by drug addiction. Instructions are given to individuals and families to introduce the addicted to the "Nejat" (=Rescue) Center.

The stories have been written with the younger generation in mind and are therefore easy to read and understand by the average reader with limited literacy skills. The topics and events are based on real life although names and places and other minor details have been changed.

Special thanks goes to Professor M. Rahim Elham, Coordinator Production & Publication, B.E.F.A.Re, Peshawar, who kindly agreed to edit and standardize the grammar of both the Dari and the Pushto version of this booklet. He has done a splendid work and needs special mention.

For the
ORA Publication Department
Dr. Farid Bazger
Peshawar, August 1996

خدایه ، موږ له دې بلا څخه وساتې !

د څو په زړه پورو کیسو مجموعه

خدایه ، موږ له دې بلا څخه وساتې !

د څو په زړه پورو کیسو مجموعه

داکتاب د پلورلو له پاره نه دی، وړیا ویشل کیږي !

د کتاب نوم	: خدایه، موږ له دې بلا څخه وساتې!
خپرونکی	: او ار ای انټرنشنل
ژباړن او مُهتمم	: ډاکټر مُحمد فرید بزګر
اډیټر	: پوهاند ډاکټر محمد رحیم الهام
انځورګر	: عبدالواسع عُمرزاد
شمیر	: ۵۰۰۰ ټوکه
د خپریدو نیټه	: وږی ۱۳۷۵ هـ ل / ۱۹۹۶ع
د خپریدو ځای	: پیښور، نیاز پریس

سرليکونه

سرليك | مخ

۱. سريزه

۲. لنډه خوښي، اوږد کړاو..۱

۳. نجات ۴

۴. د بې غورئ نتيجه...۷

۵. خدايه، مور له دې بلا څخه وساتې! ۱۰

۶. د غاټول داغ ۱۳

۷. کليوال هلک ۲۰

۹. ګُل له زهرو ډک دی.......................................۲۵

۱۰. رڼا په تورتم کې..۲۸

ډالۍ

هغوئ ته چې ځانونه يې د نشې له لعنت
څخه ژغورلي دي!

ګرانه لوستونکيه! کتابونه ستاسې هميشني دوستان دي، هغوئ سبه وساتۍ او له لوستلو وروسته يې خپلو دوستانو، خپلوانو او ګاونډيانو ته امانت ورکړئ چې هغوئ يې هم ولولي که هغوئ يې لوستلای نه شي تاسې يې ورته ووايې چې په کتاب کې يې څه ليکلي دي.

ژباړن

بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

چرسي سړی نه سړی

متل

بشر له ډیر پخوا څخه ډول ډول ستونزې ګاللي دي او ګالي يې، تر څو يې ځان اوسني مهال ته رارسولی دی. له هرې ستونزې سره يې مقابله کړې اوخپل نسل يې ژوندی ساتلی دی. خو تر ټولو ستره او غټه ستونزه، چې ننی بشر تهدیدوي ، نشه ده چې ټول خلک او په ځانګړي ډول ځوانان يې له ستر خطر سره مخ کړي دي . که څه هم د نشه يي موادو د استعمال د پیل ربنتیني نیټه نه ده څرګنده؛ خو ویل کیږي چې لومړی په دارو درمل او طبابت کې د درد د ارامولو، خوب راوستلو او د ټوخي د کمولو او ځینو نورو ناروغیو له پاره استعمالیدل. د وخت په تیریدو سره بر سیره پر طبابت په خوښیو او مذهبي مراسمو کې یی هم کارول پیل شو، د ځینو مقصدونو له پاره کوډګرو هم استعمالول. د دغو موادو تر استعمال وروسته به استعمالونکی یا ناروغ یو څه سوکاله کیده او د غړو درد به يې ښه کیده. په دغو وختونو کښې نشه يي شیان د معجونونو په شکل جوړیدل. دهمدې سملاسي اغیزې له